PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

اى مؤمنانو! د سړيو کومه ډله دې په نورو سړيو ملندې ونه وهي کېداى شي چې هغوى له دوى نه غوره وي، او نه دې ښځې پر نورو ښځو ملندې وهي، کېداى شي چې هغوى له دوى نه غوره وي. او هم يو د بل بد مه يادوئ او يو بل ته بد لقبونه مه ږدئ. له ايمان راوړلو وروسته د فسق نوم يادول ډېر بد کار دى. او هر څوک چې له دې وانووښت نو همغوى لوى ظالمان دي. (الحجرات ١٠ – ١١ آيتونه)

درس حديث

له ابو امامه رضى الله عنه نه روايت دى چې يو سړي له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه چې ايمان څه شى دى؟ هغه صلى الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې ته خپلې نيکى خوشاله او خپلې ګناه خپه کړي نو ته مؤمن يې. هغه وويل: اى د الله رسوله! نو ګناه څه شى دى؟ هغه صلى الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې دى په زړه کې يو شى کرکه پيدا کړه نو پرې يې ږده. (احمد)

شهادت دریېم کال، ۱۲ مه ګڼه، پرله پسې ۱۱۲ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د چنګاښ ۲۲ مه د۱۴۳۲ هـ ق د شعبان ۱۲ مه د۲۰۱۱ م د جولای ۱۳ مه

پر پاکستان د مرستو بندول به څه پایلې ولري؟

عبدالله "کامه وال"

د چارو شنونکي وايي، امريکا له پاکستان سره کېدونکې مرسته له دې امله ځنډولې، چې پاکستان د "ترهګرى "پر وړاندې مبارزه کې ربښتينو هڅو ته اړ کړي؛ خو د مرستو دغه ځنډ به دايمي نه وي، ځکه چې امريکا له ترهګرى سره د مبارزې لپاره د پاکستان هڅو ته اړتيا لري. تېره ورځ نړيوالو رسنيو راپورونه خپاره کړل، چې امريکا د پاکستان له پوځ سره ۸۰۰ ميليونه ډالره مرسته ځنډولې ده. نيويارک ټايمز ورځپاڼې د لوړ رتبه امريکايي چارواکو په حواله ويلي، چې واشنګټن غواړي له دې لارې له پاکستان څخه د امريکايي روزونکو د وېستلو پر وړاندې خپله غوسه څرګنده کړې او پاکستان د ترهګرى پر ضد جګړه کې د لا زياتي مبارزې لپاره وهڅوي.

د نظامي اوسياسي چارو کارپوهان بېلا بېل نظرونه لرى او د امريکا دې کار ته له بېلا بېلوا ړخونو ګورى مور ددى موضوع اهميت ته په کتو بېلابېل نظرونه راټول کړى اود شهادت درنو لوستونکوته يې وړاندې کوو:

په ولسي جرګه کې دغزني دخلکو استازى عبدالجبار شلګرى

پاتې ۳ مخ

احمد ولي کرزى په خپل کور کې ووژل شو

نوموړى د کرزي په کورنۍ کې تر ټولو بحث پارونکى شخصيت ګڼل کېده

کابل، رسنۍ:
د کندهار د ولايتي شورا رييس او ولسمشر حامد کرزي ورور احمدولي کرزى پرون سهار (د چنګاښ ۲۱ مه) په خپل کور کې ووژل شو.

ويل شوي چې يو وسله وال کس د ده کور ته ننوتى او هغه يې ويشتى دى. راپورونه وايي چې احمدولي کرزى د خپلې کورنۍ د يوه نږدې ساتونکي په وسيله وژل شوى دى.

د کرزي د کورنۍ دوستانو په کندهار کې وويل چې احمدولي کرزى د خپل مشر ورور قيوم کرزي د پخواني ساتونکي (سردارمحمد) په وسيله وژل شوى دى.

د احمدولي کرزي د دوستانو په وينا حمله کوونکى هم سمدستي وژل شوى دى.

احمد ولي کرزى د کرزي په کورنۍ کې تر ټولو بحث پارونکى شخصيت ګڼل کېده. ده ته د کندهار د ټولواک په سترګه کتل کېدل او لوېديځوالو پرې تور لګاوه چې د مخدرو موادو په کاروبار کې لاس لري. ځينو لوېديځوالو احمدولي کرزى د کندهار د نارکراری عامل باله.

احمدولي کرزي په ځانګړې ډول نيويارک ټايمز ورځپاڼه د ځان پر خلاف په تبليغاتو تورنوله او ويلې چې دا ورځپاڼه د امريکا او د ده د ورور ولسمشر کرزي ترمنځ د اختلافاتو له کبله پر ده تورونه پورې کوي. ...

پاتې ۳ مخ

د تسليت پيغام

په خواشينى سره مو خبر ترلاسه کړ چې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د جمهور رئيس جلالتمآب حامد کرزي ورور احمد ولى کرزى چې د قندهار د ولايتي شورى رئيس و د ترهګرو له خوا په ډېر ناځوانمردانه ډول په شهادت رسول شوې دى.

(انا لله وانا اليه راجعون)

د حزب اسلامى افغانستان رئيسه هيئت او د اجرائيه شورى غړى نوموړي ته د مغفرت دعا او جلالتمآب جمهور رئيس ته د الله جل جلاله له درباره د جميل صبر غوښتنه کوي.

حزب اسلامي افغانستان د تروريستانو دا وړ عمل په کلکه غندي او دا په ګران هېواد کې د سولې، امن او سوکالۍ پر خلاف يوه ناوړه عمل ګڼي.

حامد کرزى به خاطر مرگ برادرش نتوانست با همتاى فرانسوى اش بطور مفصل صحبت کند

کابل، رسانه ها:
کشته شدن احمد ولى کرزى رييس شوراى ولايتى قندهار و برادر رييس جمهور افغانستان سبب شد تا روساى جمهور افغانستان و فرانسه روى مسايل مورد علاقه به طور مفصل صحبت نکنند.

نيکولا سرکوزى رييس جمهور فرانسه به روز سه شنبه به هدف ديدار با همتاى افغانش و سربازان فرانسوى در اين کشور در يک سفر غير مترقبه وارد افغانستان گرديد.

گفته مى شود که وى زمانى با رييس جمهور افغانستان ملاقات کرد که رييس جمهور کرزى خبر مرگ برادرش را دريافت کرده بود.

حامد کرزى در حالى که متاثر و غمگين به نظر مى رسيد در يک نشست خبرى مشترک با نيکولا سرکوزى حضور يافت.

اقاى کرزى نخست در مورد به قتل رسيدن برادرش سخن گفت و بعداً در مورد ديدار با اين مهمان فرانسوى خود توضيحات مختصر ارايه کرد.

رييس جمهور افغانستان ابراز اميد

بقيه در صفحه ۳

منتقدين سياسى:

داکتر سپنتا به فيصله دو ثلث پارلمان افغانستان سلب اعتماد شده است

چگونه مى تواند از ملت افغانستان نمايندگى کند؟

داکتر سپنتا اخيراً در کنفرانس بُن دوم سيما ثمر را به نمايندگى از جامعه مدنى افغانستان معرفى نموده است، تا سخنرانى نمايد.

در حاليکه کنفرانس بُن دوم و ضرورت داير شدن آن، آنهم در غياب مخالفين مسلح دولت زير سوال است. زيرا کنفرانسى که ارمغان صلح و امنيت به ملت افغان در قبال نداشته باشد جز مصرف بى مورد و ضياع وقت چيز ديگرى بوده نمى تواند. اجتماعى که در آن پاى مخالفين مسلح نظام کشانيده نه شود دردى را درمان کرده نمى تواند، هرگاه شرکت کنندگان آن بصورت تشريفاتى و به اشاره دست اندرکاران ناکام دولت انتصاب گردند کاملاً يک جانبه بوده به داير شدن نمى ارزد.

داکتر سپنتا که به فيصله دو ثلث مجلس نمايندگان افغانستان (ولسى جرگه) سلب اعتماد گرديده به هيچصورت صلاحيت آنرا ندارد که از ملت افغانستان در هيچ بخشى نمايندگى کند چه رسد به آنکه نماينده معرفى نمايد.

ملت مسلمان و مجاهد افغانستان با سلب اعتماد از وى از شرکت او در هر نوع مذاکرات قبلاً بى اعتبارى او

بقيه در صفحه ۳

د پاکستان دفاع وزير وايي د افغانستان له پولو به عسکر لېرې کړو

تاند:
پاکستان پرون خبرداری ورکړ چې خپل ځواکونه به د افغانستان له پولو وباسي ځکه چې د امريکا د پوځي مرستو له بندېدا وروسته به دغو سيمو کې د خپلو پوځيانو د ساتنې مالي پېټى نه شي زغملی.

د پاکستان دفاع وزير چودري احمد مختار دا خبرداری د ولسمشر اوباما د حکومت له لوري پاکستان ته د اته سوه مليون ډالره پوځي مرستې د ځنډولو په غبرګون کې ورکړ.

مختار وويل چې د امريکا د مرستو بندېدا به پاکستان مجبوره کړي چې د افغانستان – پاکستان د پولو په اوږدو کې له خپلو نژدې ۱۱۰۰ پوستو څخه ځواکونه وباسي.دا پوستې په ناآرامو قبايلي سيمو کې د امنيت د راوستلو لپاره له امريکا سره د تفاهم پراساس جوړې شوې وې.

د پاکستان دفاع وزير وويل د امريکا له لوري په ځنډول شوې مرسته کې درې سوه مليون ډالره دقيقاً د همدې ناکرارې سيمې لپاره وې.

ده د دې ادعا په ترڅ کې چې د امريکا اقدام به په سيمه کې د طالبانو او القاعده پرضد هلې ځلې سبوتاژ کړي،

پاتې ۴ مخ

گسترش مفاسد اخلاقى و اسلام ستيزى در کشور

ابوذر پيرزاده

چندى قبل در زمان مسافرت به خارج از کشور و برگشت از آنجا، که با طيارۀ آريانا و کام اير انجام شد، و همينطور در جريان تماشاى مداوم برنامه هاى تلويزيون هاى داخلى، دو موضوع توجه ام را به خود جلب نمود يک موضوع آن عبارت بود از نمايش فلم هاى مستهجن و صحنه هاى رقص رقاصه هاى نيمه عريان زن از طريق شبکه هاى تلويزيون هاى غير دولتى و حتى تلويزيون به اصطلاح ملى. و موضوع ديگر چهره تماشايى مهمانداران زن شرکت هاى آريانا و کام اير در داخل طياره بود، که با سرهاى لخت و پطلون هاى تنگ و ملبس به لباس غير، جلوه نمايى ميکردند، و به قول همسفر خارجى ام هيچ نشانه يى از کلتور و فرهنگ دينى و ملى اى ما افغان ها در قدو قامت رسا و چهره هاى بزک کرده شده يى آنها مشاهده نميشد.

مع الوصف حالا که چنين جسارت ها و اهانت هاى در کشور اسلامى ما صورت گرفته و هر روز تکرار و افزونتر ميشود، و اکنون که ارزش هاى اسلامى و ملى مردم مسلمان ما بدين نحو به بازيچه گرفته شده است و گرفته ميشود، اين سوال ها در ذهن هر افغان مسلمان و با احساس مطرح ميگردد که وظيفه مسؤولين کشور و کسانيکه به ارزش هاى اسلامى و ملى خود را متعهد ميدانند، ...

بقيه در صفحه دوم

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

ولس نور د روان حالت د زغملو حوصله نه لري

د پارلمان وکیلان د ولس لـه خـوا چـاڼ او غـوره شـوی اشخاص وي، دوی د ولس د عقیدې فرهنګ او اخلاقو ممثلین وي، ولس دوی دې لپاره پارلمان ته استولي وي چې هـلتـه د قانون، هېواد، عقیدې، ولس، استقلال او د ملـت د وقـار دفـاع وکړي. د لاقانونیت، ظلم، استحصال او ټولو بدیو مخه ونیـسي، پرې نږدي چې هېواد د لاقانونیت ښکار شي، ظالم ټـولـواک او مظلوم دهغوی د ظلم په میچنه کې دل شي، خو متأسفانه چې د افغانستان د جنګ ځپلي او کړېدلي ولس دغه ارمان په اوبو لاهو شو، وکیلانو ددې پر ځای چې د قانون د حاکمیت بیرغ اوچت کړی وای، په یو اتفاق د هېواد او ولس د خدمت لپاره ملا تـړلـې وای، پخپلو کې یو بل ته د وروري او صمیمیت لاسونه ورکـړي وای، د وحدت او یووالي عملي سنبول ګرځیدلي وای، د یو د بل احترام او عزت خیال یې کړی وای، د مینې او وروری په فضـا ء کې پسته او نرمه ژبه یې کارلې وای، له هر ډول نسلي، ژبـنـي او سمتي تعصبونو څخه په کلکه ډډه کړې وای، ټولو افغانانو ته پـه یوه سترګه کتلی وای، د ټولو افغانانو یو شانته حقوقو تـه قـایـل شوي وای، د غریبو او نادارو وګړو د حالت ښـه کـولـو لـپـاره پلانونه وړاندې کړي وای برعکس هغه څه ته یې ملا وتړله چـې سراسر د ملت د غوښتنو او ارمانونو په خلاف دي، بیـچـاره او مظلوم ولس نه په ګېډه ماړه شول او نه هم د سرپټو لپاره د کور او جونګړې خاوندان شول، نه ورته انصاف ورسید او نه هم د ظالمو او بدمعاشو له څېرو څخه خلاص شول، زیاتره لوړ پوړي او ټیټ پوړي چارواکي او د قدرت خاوندان لګیا دي د مظلوم ولس پـه جایزو او ثابتو حقوقو ښکاره ګېډه اچوي، بیت المال، سر کـاري او ملکي زمکې ښه په نره غصبوي، لګیا دي د هر ولایت په لویـو لویو ښارونو کې بلند منزلونه، هوټلونه، مار کیټـونـه او مـغـازې جوړوي، بیا پخپله خوښه دومره ډیری کرایانی او پیشکي اخلـې چې غریب او ناداره وګړي پکې نه د کانداري کولې شي او نـه هم د کورونو او د بلند منزلونو لوړې کرایانې ور کولې شي. ظلم دپاڅه ظلم لا دا چې غریبان د یوه نوړی حلال ډوډی د پیدا کولو لپاره د سړکونو په غاړه له رشوت ورکولو پرته ریړه هـم نشـي ودرولې او هر مازدیګر د ښاروالي مؤظفینو ته رشوت ور کوي.

د افغانستان جنګ ځپلې او مظلوم ولس چې د خپلو حقوقو د دفاع لپاره پارلمان ته خپل نماینده ګان استولي وو او دا هـیلـه یـې تر ښه درلوده چې دهغوی د حقوقو د تأمین لپاره خپل ایمانـي او افغاني مسؤولیت ترسره کړي دهغوی ددغه حالت په لیدو ناهیلې او ترښه بې اعتباره شوي دي، ولس پر ځای پوښتنه کوي چې که چېرته پخپله د ولس نماینده ګان په پارلمان کې د اتفاق پر ځای په ډلو ټپلو وویشل شي نسلي او ژبني تعصبونو ته لمنه ووهي، د یـو بل په خلاف رکیک او نامناسب الـفـاظ اسـتـعـمـال کـړي، د شخصیت پرستی بت دومره قوي شي چې پر یو بـل د بـوتـانـو، بوتلو او سوکونو بارانونه وکړي، خپل مسایل د قانون له لارې د حل کولو پر ځای د ټوپک او جنګ له لارې د حلولو اخطارونـه ورکړي، قانون او د قانون نافذونکی اداری دومره دهـغـوی لـه اعتماده ولویږي چې ملګرو ملتو اداره او نورو هېوادونو څخـه د انصاف غوښتنه وکړی نو داسې وکیلان او عدلیه به څنګه خپـل ولس ته عدل او انصاف لاره هواره کړی شي څنګه به د ولـس ترمنځ یووالې او ورور ګلوي اړیکې ټینګې کړی شي، د قانون د احترام او دهغه د منلو جذبه به څنګه د ولس په زړونه کې پـیـدا کړی شي؟ ! دا حالت د افغانستان د مسلمان او مجاهد ولس لپاره ډېر ځورونکی دی هغوی نور دداسې حالت د زغملو حوصله نـه لري، که چېرته دا روان ناورین ژر تر ژره پای ته ونه رسېږي نـو لیری نه ده چې ولس عمومي پاڅون ته اړ شي او د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره له هیڅ ډول قربانی څخه ډډه ونکړي.

بحران سیاسی ناشی از سومین اعلان نتایج انتخابات

اعزامی

پس از برگزاری انتخابات شورای ملی در سال گذشته، تعداد زیادی از نامزد وکیلان ولسی جرگه در مرکز و ولایات ضمن ارائه اسناد و شواهد، عرایض شان را به دفتر سمع شکایات کمیسیون انتخابات تقدیم و از اعمال تقلبات و تخلفات وسیع در جریان انتخابات پارلمانی شکایت نمودند. کمیسیون سمع شکایات حتی المقدور شکایات وارده را مورد غور و بررسی قرار داد، ولی قبل از تکمیل کار بررسی کمیسیون مزبور پایان یابد، کمیسیون مستقل انتخابات نتایج ابتدایی انتخابات را اعلان کرد. چند روز بعد که کار ارزیابی و بررسی شکایات پایان یافت، کمیسیون های سمع شکایات و کمیسیون مستقل انتخابات به اتفاق هم، لست دیگری از وکلای برندهٔ آرای بالا را به عنوان آخرین نتایج انتخابات ولسی جرگه اعلان نمود که تا جایی با لست ابتدایی تفاوت داشت و در بعضی حوزه ها تغییراتی بمیان آمده بود.

اعلان نتایج نهایی از دیدگاه کمیسیون مستقل انتخابات و کمیسیون سمع شکایات، نتایج مقطوع و پایانی شمرده شده و اعلان داشت که دیگر هیچ تغییری در لست نیامده و منبعد نیز هیچ شکایتی قابل سمع نمی باشد، مگر جمع غفیری از کاندیدان ناکام، اعلان لست نهایی را غیر عادلانه و آن را آگنده های عدلی و قضایی پیشکش کردند. اداره لوی څارنوالی به حکم قانون اساسی و سایر قوانین نافذهٔ کشور، تقلبات و تخلفات جریان انتخابات را جرم شمرده و مورد تعقیب و تحقیق عدلی قرار داد.

قرار بود که کار دورهٔ جدید ولسی جرگه به تاریخ ۳ دلو ۱۳۸۹ آغاز گردد، مگر بنابر درخواست ارگان های عدلی و قضایی، کار افتتاح ولسی جرگه بحکم رئیس جمهور برای یکماه به تاخیر افتاد. همزمان با صدور این حکم سر و صدای کاندید وکیلان کامیاب بالا گرفت، از یکسو آنها از رئیس جمهور مصرانه تقاضا نمودند تا کار دورهٔ شانزدهم ولسی جرگه بدون درنگ آغاز گردد و از سوی دیگر سازمان ملل متحد و جامعهٔ جهانی بجانبداری از کاندیدان کامیاب به رئیس جمهور فشار وارد کردند که کار پارلمان را بدون کشیدن انتظار به ختم جریان تحقیق و صدور حکم قضایی از جانب ارگان های عدلی و قضایی، افتتاح نماید. رئیس جمهور در بحبوحهٔ این بگو مگوها در میان دو سنگ قرار گرفت، از یکسو اعتراض کاندیدان ناکام اعلام شده مبنی بر اعمال تقلب وسیع در جریان انتخابات و دوام تحقیق و ارزیابی در لوی څارنوالی و محکمه ویژه انتخاباتی و از سوی دیگر فشار وکیلان کامیاب اعلام شده، مبنی بر افتتاح هر چه عاجلتر کار ولسی جرگه که حمایت خارجی ها را نیز با خود داشتند. رئیس جمهور در جریان یک شبانه روز با هر دو گروپ از نزدیک ملاقات کرد و عرایض هر دو طرف را با حوصله مندی شنید و در همان زمان افواهاتی هم پخش شد که اگر رئیس جمهور پارلمان را رسماً افتتاح نکند، وکلای کامیاب اعلام شده خود شان به این کار دست میزنند. رئیس جمهور در وضعیت عجیبی قرار گرفت و به فکر فرو رفت که چه کند؟

بالآخره وی بر مبنای همان ضرب المثل معروف کاری کرد که "هم لعل بدست آید و هم یار نرنجد" طوریکه از وکلای کامیاب اعلام شده تعهد گرفت که کار ولسی جرگه را به این شرط افتتاح می کند که اگر در نتیجه تحقیق و محاسبه و شمارش آراء از جانب ارگان های عدلی و قضایی تغییری در لست نهایی رونما گردید، حکم محکمهٔ خاص واجب التنفیذ خواهد بود. همچنان به وکلای معترض اطمینان داد که من غرض افتتاح کار دوره جدید ولسی جرگه به تالار شورای ملی میروم، شما با یاری رساندن ارگان های عدلی و قضایی در پی اثبات مدعای تان برآئید، اگر موارد تقلب در نتیجه تحقیق و محاکمه ثابت گردید، قرار وعده به استغاثه شما در همان زمان نیز وقعی نهاده خواهد شد.

با این تجاویز، کار دورهٔ شانزدهم شورای ملی رسماً از طرف رئیس جمهور افتتاح گردید. و وکلای کامیاب با دریافت کارت اعتبار، رسماً کرسی های نمایندگی مردم را در پارلمان احراز کردند و به وظایف تقنینی خویش مشغول گردیدند، مگر آنسوی دیگر اداره لوی څارنوالی موارد مختلف تقلب بعضی وکلای کامیاب را با اسناد و شواهد تحویل قوه قضائیه داد و ستره محکمه با پیشنهاد تاسیس محکمه خاص به مقام ریاست جمهوری و کسب منظوری از آن مقام با جدیت کار خود را دنبال کرد و با شمارش مجدد آراء در ۳۲ ولایت کشور طی چهار ماه کار خود را تمام کرد و منتظر آن بود که وکلای ولسی جرگه به رخصتی تابستانی بروند تا نتایج کار خود را اعلان نمایند مگر وکلا با آگاهی ازین تصمیم محکمه خاص، به بهانهٔ عدم معرفی هفت تن از وزرای سرپرست، رئیس و اعضای ستره محکمه دو نفر کمبود اعضای کمیسیون نظارت بر قانون اساسی غرض گرفتن رأی اعتماد به ولسی جرگه، از رفتن به رخصتی تابستانی استفاده نکردند و با حضور در تالار شورا و کوبیدن بر میزها، ظاهراً منتظر معرفی وزراء و در اصل منتظر اعلان نتایج محکمه خاص بودند.

ولسی جرگه طی این مدت با استفاده از فرصت خواستند تا موانع آینده را یکی پی دیگر از سر راه خود بردازند. آنها زمانیکه دانستند استغاثه و اصرار شان برای لغو محکمه خاص از جانب رئیس جمهور مهمل باقی ماند، در قدم اول یکبار دیگر بر غیر قانونی بودن محکمه خاص فیصله کردند، پس از آن به سلب صلاحیت لوی څارنوال پرداختند، بعداً رئیس و پنج عضو شورای عالی ستره محکمه را فاقد اهلیت دانستند، بعدتر برگزاری لویه جرگه را غیرقانونی توصیف کردند. و بالاخره در یکی از نشست های اخیر خویش تقاضای استعفای رئیس جمهور از مقامش را کردند مگر این خواست شان در جریان بحث به مشاجره کشیده شد و در بارهٔ آن فیصله نگردید. فیصله های که اگر قضیه إعمال تقلب و سلب صلاحیت یکتعداد وکلا در میان نمی بود، ولسی جرگه هیچگاهی با اشتغال به چنین فیصله های خارق العاده از رفتن به رخصتی تابستانی منصرف نمی شدند.

بهر حال این همه تلاش و هیاهوی وکلای ولسی جرگه موجب لغو محکمه خاص و تغییر فیصله محکمه مزبور نشد و اسباب اقناع رئیس جمهور فراهم نشد و محکمه خاص چند روز قبل نتیجهٔ بررسی های پنج ماهه خود را اعلان کرد که بموجب آن ۶۲ نفر از وکلای برحال ولسی جرگه بنابر تقلب از عضویت شورای ملی سلب صلاحیت و به عوض آنها ۶۲ نفر دیگر که در نتیجه شمارش مجدد، با داشتن رقم بیشتر آرای بدون تقلب، به عضویت ولسی جرگه معرفی گردیدند که از جانب شورای عالی ستره محکمه و کمیسیون مستقل نظارت بر تطبیق قانون اساسی نیز تأیید گردیده است.

کمیسیون مستقل انتخابات و وکلای سلب صلاحیت شده و برحال ولسی جرگه با رد این فیصله محکمه خاص، از حکومت، مجامع بین المللی و سایر طرف ها و افراد ذی نفوذ تقاضا نموده اند تا با مداخله درین قضیه، نخست محکمه خاص را لغو و در ثانی حکم آن را کان لم یکن نمایند، ولی از برخورد سرد حکومت، موضعگیری قاطع قوه قضائیه و توصیه های پدرانهٔ مجامع بین المللی و سران کشورهای دوست چنان پیداست که آنها می خواهند فیصله محکمه خاص به کرسی بنشیند.

در روزهای آینده آیا وکلای سلب صلاحیت شده از پارلمان بخانه برگشته به ماجرا پایان می بخشند و یا اینکه با تحصن و راه اندازی تظاهرات از تخلیه کرسی های پارلمان ابا می ورزند و اگر چنین شود پس چه پرستیژی به قوه های دولت باقی خواهد ماند و در نهایت سلسله بحران به کجا خواهد کشید؟ ! آیا طرح چند فقره ای کمیسیون انتخابات مورد قبول رئیس جمهور و قوهٔ قضائیه قرار می گیرد و یا اینکه رئیس جمهور با توجه به مصالح علیای کشور و در محدودهٔ صلاحیت های خودش تصمیم می گیرد !

گسترش مفاسد اخلاقی و اسلام ستیزی در کشور

(بقیه از صفحه اول)

... در قبال این قضایا چیست؟ تا کی در برابر چنین مسائلی مهمی بی تفاوت باید بود و تا چه وقت به خاطر چوکی و مقام ساکت باید نشست و منفعت شخصی را بر منافع اسلامی و مصالح ملی ترجیح داد؟ آیا باز هم همان تجارب تلخ گذشته را تکرار کرد و همانند دههٔ قانون اساسی سلطنت گذشته، در برابر مفاسد اخلاقی و اسلام ستیزی های عده یی جاه طلب و خود باخته به غیر، از مسامحه و مجامله و تعلل و اهمال کار باید گرفت؟ ملت مسلمان افغانستان در برابر همچو عملکردهای اهانت آمیز مشتی قلیل و فریب خورده که شئونات دینی و ملی ما را جریحه دار کرده است تا کی سکوت اختیار خواهد نمود؟ آیا قربانی شدن یک ملیون و نیم انسان مؤمن و بیگناه، و ویرانی کشور در طول سه دههٔ گذشته، که به خاطر دفاع از همین ارزش های اسلامی و ملی صورت گرفته کافی نیست؟ بازیچه قرار دادن ارزش های دینی و ملی مردم مسلمان افغانستان و نادیده گرفتن آن از سوی اقلیت خود خواه و فریفتهٔ فرهنگ بیگانه گان در برهه های از قرن حاضر هجری شمسی، جز خسارت های جبران ناپذیر و بربادی و ویرانی ملت و کشور ما چه دست آورد دیگری برای مردم مسلمان افغان داشته است؟

اینها سوالاتی هستند که مردم مسلمان ما از مسؤولین کشور و باالاخص از آنهائیکه دل شان برای اسلام و مهین اسلامی میسوزد، دارند. و مصالح علیای کشور ایجاب میکند تا به این پرسش ها جواب قانع کننده یی داده شود و در رفع نابسامانی های موجود اقدامات جدی ای صورت بگیرد. وگر نه باز هم همان تجارب تلخ گذشته تکرار خواهد شد.

و دست اندر کاران نظام کنونی کشور و همه کسانیکه داد از اسلام و افغانیت میزنند، در پیشگاه خدا و تاریخ مسؤول خواهند ماند. زیرا تاریخ گذشته کشور ما نشان داده است که ملت مسلمان و مجاهد افغانستان در برابر مفاسد اخلاقی و اسلام ستیزی های مشتی جاه طلب و خود خواه و فریفتهٔ ظواهر فرهنگ دیگران، و همینطور در مقابل اهانت ها و جسارت های این اقلیت بی بندو بار و فریب خورده، به ارزش های اسلامی و ملی ما، هرگز گذشت نخواهند کرد.

والسلام علی من التبع الهدی

اوس گناه هم ډالۍ کېږي

محمد خليل

موږ يو لوري په ډېر فخر دعوه کوو چې حکومت او اساسي قانون مو اسلامي دی، الحمدلله مسلمانان يو، مگر بل لوري زموږ په اسلامي خاوره کې داسې کارونه هم په پوره جرئت او بې حيايي ترسره کېږي چې دهغوی په ليدو او يا هم په اورېدو يو مسلمان ته دا اندېښنه پيدا کېږي چې دلته د اسلام او اساسي قانون په غم کې څوک نشته، که نه نو په يو اسلامي هېواد کې دا څنگه ممکن کيدلې شي چې د اسلام منافي کړني په پوره سپين سترگۍ له څه ويرې پرته ترسره شي، چارواکی هم ورته د کولو ليسنس ورکړي او ولس هم خپل عکس العمل ونه ښيئ.

دا سمه ده چې گناه پرښتې نه بلکې انسانان يې کوي خو ددې مطلب هرگز دا هم نه دی چې انسان ته د گناه کولو بشپړ واک او اجازه ورکول شوې ده، د اسلام په سپېڅلی دين کې حلال او حرام دواړه ښودل شوي دي، حلال يې ستايلې او دهغه د ترسره کولو امر يې کړې، او حرام يې غندلي او تربنه د ډډې کولو تأکيد يې کړې دی.

د اسلام مقدس دين د ظلم، فساد، بدکاری او ورانکاری د مخنيوی لپاره له حکمت نه ډک بنسټونه او قوانين ټاکلي دي چې گټه يې سراسر انسانانو ته رسېږي، له دغو الهي قوانينو څخه يو قانون په سوره نور کې دا دی چې: نارينه او ښځې دواړه دې نامحرم ته ونه گوري او ښځې دې د نامحرمو نارينه و څخه پرده وکړي.

خو موږ د خپلو ښارونو او کليو په کوڅو کې گورو چې د الله تعالی له دغه قانون څخه په بشپړ ډول سرغړونه کېږي، ډېری ځوانی پيغلې او ښځې د ستر او پردې بالکل خيال نه کوي او داسې تنگ پتلون او جيکټ اغوندي چې د وجود هر اندام يې جلا جلا ښکاري، داسې پيشن او سينگار سره وځي چې د يوې مسلمانې ښځې له شان سره بالکل نه ښيئ او نه هم اسلام ورته اجازه ورکوي. سړي ښځو ته ښه په مړه گېډه گوري او ښځې سړي ته، ان چې يو ځای کيني، ټوکی ټکالې او خنداگانې کوي، چې تلويزيون او اف ام راډيوگانې ددې ښکاره ثبوتونه او بېلگې دي. په راډيوگانو کې جلی او زلمی پخپلو کې داسې پاروونکي او له حيا پرېوتې خبرې اترې کوي چې ښځه او خاوند هم په ځانله جلا ځای کې له کولو نه حيا کوي، داسې عشقي او هيجاني شعرونه يو بل ته اوروي چې ښکاره نامشروع عمل ته بلنه ورکوي، کله چې د سندرې د فرمايش لپاره هلکان له جينکيانو سره ټيلفوني اړيکې نيسي نو پخپلو کې داسې بې حيا او له اخلاقه پرې وتي گپ شپ لگوي چې اورېدونکي ته هم حيا ودرېږي. د سندرې د فرمايش ترځنگ بل چاته د ډالۍ کولو فرمايش هم کوي او وايي چې دا سندره فلانې جان، يا هم فلانی جانې ته ډالۍ کوم. مطلب دا چې په اسلامي هېواد افغانستان کې بې حيايی دومره وده او ترقي کړې چې خلک گناه پخپله يې هم کوي او بل چاته يې هم ډالۍ کولی شي.

شايد په اسلامي نړۍ کې افغانستان لومړنی هېواد دې چې دوستان يو بل ته د سندرو د اورېدو گناه او په موبايلو کې لوڅ تصويرونه ډالۍ کوي او اورېدونکی او ليدونکی دهغه ددغې ډالۍ مننه او شکريه ادا کوي.

افسوس دی پر داسې چارواکو او مور و پلار چې د گناه د اډو او مرکزونو جوړولو ته، نه يوازې دا چې اجازه ورکوي بلکې مرسته هم ورسره کوي.

پر پاکستان د مرستو ...

وايي چې امريکا په سيمه کې د ثبات په راوستو کې مخلصه نه ښکاری که چېری امريکا وغواړی سوله راشي دا کار شونی دی خوپدی لار کی دپاکستان مرسته هم ډېره اړينه ده پاکستان ته بايد اطمينان ورکړ شي چې په افغانستان کی يوقوی نظام د پاکستان او سيمې په خير دی او افغانستان د هند په پرتله پاکستان سره دلا زياتو او ښو دوستانه اړيکوته ارزښت ورکوی نوموړی پر پاکستان د امريکا د مرستو د بندېدو ته په هکله وايي، چې کله کله د ځينو چارو د سرته رسولو په موخه له داسې فشارونو گټه اخيستل کېږي.

د نظامي چارو بل کار پوه سيدرحمن واحديار بيا وای چې امريکا دخپل ولس نه پدی اعلان خان خلاصوي دامريکا ولس داجگړه دتروريزم پر وړاندی يوه ناکامه جگړه بولي او د جگړې دوام د امريکا لپاره يوه ملا ماتونکی اقتصادي ضربه گڼي. دده په نظرامريکا غواړي خپل قوم ته وښای چې نور نو ددوی مرستی په حساب دی او نه غواړی چې مرستی يې بې ځايه مصرف شي.

د چارو بل شنونکي ډاکتر محمد انور وايي: لکه څنگه چې څه موده وړاندې رسنيو يو خبر خپور کړ چې د امريکا او پاکستان ترمنځ يو پټ تړون لاسليک شوې چې امريکا حق لري چې کله او چېرته هم د القاعدې مشر په پاکستان کې ترسترگو شي امريکا کولای شي پرخلاف يې عمليات ترسره کړي، او پاکستان هم ددې موافقې پراساس دا حق لري چې د امريکا ددې عملياتو پرخلاف اعتراض وکړي، اوس چې پاکستان د اسلامي او عربي نړۍ د ذهنيتونو د قناعت په خاطر لړ تند عکس العمل ښودلې، نو د پخوانی توافقاتو پرخلاف د امريکا عکس العمل هم تند شوې چې وکولای شي ځان د عامو امريکايانو ذهنيت او د ټکس ورکوونکو له نفرت نه ځان خلاص کړي او د ۸۰۰ ميليونو ډالرو مرستو په ورکړه کې ځنډ راولي. خو دا کار به د افغانستان د سولې پر بهير منفي اغيزه وکړي، ځکه چې پاکستان په افغانستان کې د سولې د راوستو له بهير سره له وړاندې نه د مرستې نه کولو بهانه لټوي او دا به هغه ته د نه همکاری لپاره بهانه په لاس ورکړي.

خوځينې نور کتونکي بيا په دې اند دي؛ چې دا مرستې به ونه ځنډول شي، ځکه چې د "ترهگرۍ "پر وړاندې د پاکستان د اقداماتو ډېرېدو لپاره امريکا اړه ده، چې له پاکستان سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

دغه راز دا مرستې له دې امله هم نه ځنډول کېږي، چې افغانستان او پاکستان د "ترهگرۍ "خلاف جگړه کې ښکېل د نړيوال ايتلاف فعال غړي دي او د دواړو هېوادونو حالات يو پر بل نېغ اثر لري. دشنونکو په اند، که چېرې پر پاکستان د امريکا مرستې بندې شي او په مناسباتو کې يې خرابوالی راشي، دا به له افغانستانه د پاکستان پر اړيکو منفي اغېزه وکړي او په سرحدي سيمو کې به د وسلوالو مخالفينو پر وړاندې د پاکستاني پوځ په اقداماتو کې سوړوالی راولي.

او د "ترهگری "پر وړاندې به د امريکا، افغانستان او پاکستان گډه مبارزه زيانمنه کړي او له پاکستان سره د افغانستان پر ترانزيتي تړون سربېره د دواړو هېوادونو پر نورو سياسي او اقتصادي اړيکو هم منفي اغېز په افغانستان کې د پاکستان رول ته په کتو سره بايد امريکا له حوصلې کار واخلي او خپلې مرستې بندې نه کړي، ترڅو دغه هېواد د "ترهگرۍ "پر وړاندې مبارزې ته وهڅول شي.

خو پدې برخه کې پاکستان ته هم په کار ده، چې د "ترهگرۍ "پر وړاندې د مبارزې په اړه خپلې ژمنې په سمه توگه ترسره کړي.

احمد ولي کرزی په خپل ...

احمدولي کرزی د روان کال په ثور مياشت کې له يوې وژونکې حملې هغه مهال روغ ووت چې د کابل – جلال اباد په لاره کې په سروبي ولسوالی کې پرې وسله واله حمله وشوه.

احمد ولي کرزی په ۱۹۶۱ ميلادي کال د کندهار د کرز په سيمه کې زېږېدلی. د ولسمشر کرزي تر ټولو کشر ناسکه ورور دی.

دی په ۲۰۰۵ ع کال د کندهار د ولايتي شورا رييس غوره شو چې تر پايه يې همدا مسووليت په غاړه و.

دې مخکې د امريکا د الينوييس ايالت په شيکاگو ښار کې اوسېدلی او رستوران يې درلود.

داکتر سپنتا به فيصله دو...

را علام نموده است.

لازم به تذکر است که ايشان برای تهيه طرح پيمان استراتيژيک با ايالات متحده امريکا رول کليدی را بازی می کند. که دوام همچو وظايف به چنين اشخاص جفائی با اعتماد ملت ما شمرده می شود.

حامد کرزی به خاطر ...

واری کرد که در اين کشور صلح و ثبات برقرار شود و خانواده های افغان ديگر با درد و غم از دست دادن عزيزان شان دچار نشوند.

وی گفت:

" قسمی که اطلاع داريد امروز صبح برادر خوردم احمد ولی کرزی در منزلش به شهادت رسيد. همين زنده گی مردم افغانستان است و هر خانواده ء افغانستان از چنين چيز های رنج برده و اميدواری ما اين است که انشاالله رنج مردم افغانستان از بين برود و در وطن ما صلح و امنيت برقرار شود تا هيچ خانواده ء افغان به اين چنين درد ها گرفتار نشود. "

در همين حال رييس جمهور فرانسه با ابراز تسليت به همتای افغان خود به خاطر کشته شدن برادرش از ادامه کمک های فرانسه به افغانستان در زمينه ء بازسازی اين کشور و آموزش و تقويت نيرو های افغان اطمينان داد.

فرانسه حدود۴هزار سرباز در افغانستان دارد که اکثريت آنان در ولايت کاپيسا و ولسوالی سروبی ولايت کابل مستقر هستند.

آقای سرکوزی در بخش از صحبت هايش بر برقراری صلح و ثبات در افغانستان نيز تاکيد کرده گفت که صلح در افغانستان به نفع منطقه است.

د اسلامي تاريخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(درې ويشتمه برخه)

س۴۱۷: چا لومړی د زم زم اوبه په مر مرو پټې کړې او ځمکه يې هم په مر مرو فرش کړه؟

ځ: ابو جعفر منصور

س۴۱۸: چا ته لومړی د زم زم اوبه را و وتلې؟

ځ: اسماعيل عليه السلام ته.

س۴۱۹: چا لومړی حرم د داخل نه په مر مرو هوار کړ؟

ځ: وليد د عبدالملک زوي لو د مروان لمسی چې د اميه له خليفگانو نه و.

س ۴۲۰: چا لومړی دنانير او دراهم جوړ کړل؟

ځ: عبدالملک د مروان زوی لومړی دا کار وکړ په يو مخ يې لا اله الا الله او په بل مخ يې محمد الرسول الله او تاريخ و ليکه.

س ۴۲۱: چا لومړی د مهر لپاره څلور سوه ديناره و ټاکل؟

ځ: پنځم خليفه عمر بن عبد العزيز.

س ۴۲۲: لومړی ښځه څوک وه چې کافر يې مړ کړ؟

ځ:صفيه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم ترور هغی يو يهودي هغه وخت مړ کړ چې د خندق غزا پر مهال د دوی پر کلا تيريدو.

س۴۲۳: چا لومړی په اندلس (هسپانيه) کې فقه او دين سره يو ځاي کړل؟

ځ: سيوطي په خپل کتاب (اوايل) کې ليکلي چې عبد الرحمن د موسی هواري اسجي زوي لومړی سړی و چې دا کار يې و کړ.

س۴۲۴: چا لومړی د مالک بن انس مسايل مصر ته راوړل؟

ځ: سيوطي وايي: عبد الرحيم د خالد اسکندري زوي لومړی سړی و چې د مالک بن انس مسايل يې مصر ته راوړل.

س۴۲۵: د کوفی د عالمانو نه چا لومړی په نحوه کې کتاب وليکه؟

ځ: د کسايي استاذ، ابو جعفر محمد د حسن رواس زوی.

س ۴۲۶: چا لومړی توريه (د بلاغت علم) کشف کړ ؟

ځ: فخر الدين د مکانس زوي.

س۴۲۷: چا لومړی د اسمانونو د جوړښت خبرې وکړې او د ستورو تگلاره او د هغوي (ستورو) د تاثيراتو څرنگوالی يې کشف کړ؟

ځ: عسکري ليکلي ادريس عليه السلام لومړی شخص و چې دا کار يې کړی دی.

س۴۲۸: د لقمان لومړی وصيت زوی ته څه و؟

ځ: له الله پاک سره شريک نه پيدا کول.

س۴۲۹: څوک به د قيامت په ورځ لومړی د قبر څخه راوځي؟

ځ: محمد صلی الله عليه وسلم.

س ۴۳۰: څوک به لومړی شفيع وي؟

ځ: محمد صلی الله عليه وسلم.

س ۴۳۱: چا ته به د قيامت په ورځ لومړی غږ کيږي؟

ځ:محمد صلی الله عليه وسلم ته.

س ۴۳۲: چا ته لومړی د قيامت په ورځ د سجدې کولو اجازت ورکول کيږی؟

ځ: محمد صلی الله عليه وسلم ته.

س ۴۳۳: چا ته به لومړی د قيامت په ورځ د سجدی نه د سر پورته کولو اجازه ورکوله کيږی؟

ځ: محمد صلی الله عليه وسلم ته.

س ۴۳۴: څوک به لومړی جنت ته داخليږي؟

ځ: محمد صلی الله عليه وسلم. او د هغه امت.

س۴۳۵: لومړۍ (نرسه) په اسلام کې څوک وه؟

ځ: رفيده اسلميه د حارث لور په اسلام کې لومړنۍ نرسه وه، هغې د معاذ زوی سعد ته کله چې د احزاب په غزا کې زخمي شو په مسجد نبوي کې د زخم پټی ورباندې کېښودله، ابن اسحاق وايي: دي (رفيده) به د زخميانو تداوي کوله او خپل ځان يې دی ته وقف کړی وه او پيغمبر عليه السلام اصحابو ته دا ويلې وو چې تاسي دی (د معاذ زوی سعد) د رفيده په خيمه کې ځاي پر ځاي کړی تر څو يې زه د نږدی نه و گورم، او رفيده د هغه شلو مسلمانو ميرمنو ريسه وه چې د احزاب په غزا کې يې د نرس په حيث دنده اجرا کوله.

س۴۳۶: په اسلام کې لومړی کلينک کوم و؟

ځ: په اسلام کې لومړی کلينک د حارث د لور رفيده اسلميه و دا هغه ښځه ده چې په ځنې رواياتو کې د کعيبه بنت سعد په نوم سره يادېږي.

س۴۳۷: چا لومړی د ټولنپوهنې د علم تهداب ايښی دی؟

ځ: عبد الرحمن د خلدون زوي د ټولنپوهني لومړی مؤسس دی، او په ټولنپوهنه کې د ده تاليفات د اوسنې وخت د مهمو مراجعو نه دي او د مشهورو تاليفاتو نه يې د (عبر کتاب او ديوان المبتدأ و الخبر في أخبار العرب و العجم و البربر و من عاصرهم من ذوي السلطان الأكبر).

س۴۳۸: چا لومړی پيره داران او گزمه کوونکې و گومارل؟

ځ: د ابو سفيان زوي زياد لومړی سړی و چې پيره داران او گزمه کوونکې يې په وظيفه و گومارل.

(نور بيا)

تلفات نظامي فرانسه در افغانستان به ۶۴ تن رسید

خبرگزاري فارس:
با کشته شدن یک نظامي فرانسوي در افغانستان، شمار نظامیان فرانسوي کشته شده در این کشور به ۶۴ نفر رسید.
به نقل از روزنامه فرانسوي "لوپاریزین "، وزارت دفاع فرانسه روز گذشته اعلام کرد: "یک نظامي فرانسوي روز دوشنبه بر اثر تیراندازي اشتباهي و تصادفي یک نظامي فرانسوي دیگر در شرق افغانستان کشته شد."
بنا بر اعلام وزارت دفاع فرانسه، این اتفاق در حالي روي داد که نظامیان فرانسوي در حال باز گشت از یک مأموریت نظامي در ولایت کاپیسا واقع در شمال‌شرق افغانستان بودند.
بنا بر اعلام مقامات فرانسوي، با کشته شدن این نظامیان فرانسوي، شمار تلفات نظامي فرانسه در افغانستان از زمان استقرار نظامیان این کشور در افغانستان در سال ۲۰۰۱ تاکنون، به ۶۴ نفر رسیده است.
این در حالي است که طبق اعلام همین مقامات، این نظامي دوازدهمین نظامي فرانسوي است که از آغاز سال جاري میلادي تاکنون در افغانستان کشته شده است.
فرانسه به عنوان چهارمین مشارکت کننده و تأمین کننده نیروي نظامي در جنگ افغانستان در حال حاضر سه هزار و ۷۰۰ نظامي خود را در افغانستان مستقر کرده و وعده داده که تا تابستان سال ۲۰۱۲ یکهزار نظامي خود را از این کشور جنگ‌زده خارج کند.
بیشتر نظامیان فرانسوي در کابل و ولایت هاي سروبي و کاپیسا در افغانستان مستقرند.

افغانستان د نړېوالو رسنیو په هنداره کې

پتریوس په اطمینان سره په افغانستان کې خپل ماموریت پای ته رسوي. دا د امریکایي نیویارک تایمز ورځپاڼې د مقالې نوم دی چې د افغانستان د وضعیت په اړه یې خپره کړې ده.
ورځپاڼه لیکي، جنرال ډېوېډ پتریوس چې څو ورځې وروسته په افغانستان کې د ناټو د عمومي قوماندان په توګه له خپل موقف څخه لرې کیږي او د امریکا په پوځ کې د خپل اوه دېرش کلن ماموریت لوری بدلوي، وویل، په داسې حال کې له دې مقام څخه لرې کیږي، چې د امریکا په ګټه د جګړې د لورې د بدلون او افغانانو ته د مسوولیتونو د سپارلو په برخه کې به بریالی وي.
پتریوس نیویارک تایمز ته ویلي، هغه په دې اند دی، چې افغانان په یوه اندازه دوامداره مرسته کولی شي، چې د خپل هیواد اداره او امنیت خوندي کړي.
د ورځپاڼې په وینا ډېوېډ پتریوس چې ډېر خلک یې په اړه په دې اند دې چې په عراق کې جګړه یې د امریکا په ګټه بدله کړه تیر کال افغانستان ته تبدیل شو؛ څو په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د عملیاتو څارنه وکړي.
هغه وایي، په افغانستان کې د پرمختګ نښې نښانې لیدل کیږي.
د مخالفو وسله والو حملې د مې په میاشت کې نسبت تیر کال ته په همدې میاشت کې لږې وې او ورته جریان د جولای یا رواني میاشتي په ترڅ کې هم لیدل کیږي.
جنرال پتریوس وایي، په دې موسم کې د مخالفینو په حملو کې کموالی په دې معنی دی، چې د دوی ظرفیت او امکانات کم او محدود شوي دي.
خو هغه بیا هم خبرداری ورکړ، چې په

پتریوس: په افغانستان کې د پرمختګ نښې نښانې لیدل کیږي

راتلونکو ۱۵ میاشتو تر دې دمخه چې دري دېرش زره امریکایي ځواکونه له

افغانستانه ووځي جګړه به شدت اختیار کړي.
بلې امریکایي ورځپاڼې، واشنګټن پست د خپل یوه خبریال یو راپور خپور کړی چې په سرحدي سیمو کې یې د افغانستان او پاکستان تر منځ د لانجې په اړه لیکلي.
ورځپاڼه لیکي په سرحدي سیمو کې ډزې د افغانستان او پاکستان تر منځ نازکو اړیکو ته ګواښ بلل کیږي، چې له ډېره وخته یې په اړه محتاط چلند کیږي.
په داسې حال کې چې متحد ایالات په افغانستان کې خپل ځواکونه کموي په سیمه کې د خپل منځې جګړو اندیښنې ډېرې شوې دي.
واشنګټن پوسټ لیکي افغان مقامات ادعا کوي، چې د پاکستان پوځ په دې وروستیو کې ۴۵۰ توغندي له خپلې خاروی په افغانستان ویشي چې څه باندې څلویښت تنه ملکي خلک یې وژلي دي.
په مقابل کې پاکستان ادعا کوي، چې په افغانستان کې مخالفو وسله والو شپږ ځله د دوی پر هدفونو په پاکستان کې ډزې کړې او د دوی ۵۵ تنه امنیتي ځواکونه یې وژلي دي.
ورځپاڼه لیکي، د دواړو هیوادونو مقامات وایي، دا حملې هغه خطر دی چې د بهرنیو ځواکونو له وتلو سره یې شدت ډېریدلی شي.
واشنګتن پسټ لیکي، یو شمیر لویدیځ مقامات وایي، افغانستان او پاکستان له لویدیځ څخه په ځانګړې توګه له اورپا او امریکا څخه په سرحدي سیمو کې چې له مودو راهیسې په کې لانجې رواني دي، د زیاتو امتیازاتو د ترلاسه کولو لپاره دې ډول شخړو ته لمن وهي.
ورځپاڼه لیکي، افغان جمهور ریس حامد کرزي ویلي، افغان ځواکونه به د پاکستان په شان بالمثله عمل تر سره نه کړي او اسلام اباد وایي، په ډېرو لږو موارو کې به د مخالفو وسله والو د تعقیب لپاره د افغانستان په لور ډزې وکړي.

شانزده فرد ملکی در اثر بمباردمان نیروهای خارجی در لوگر کشته شدند

مقامات محلی ولایت لوگر می گویند که در نتیجه بمباری نیروهای خارجی در ولسوالی ازره این ولایت ۱۶ فرد ملکی جان باختند.
عبدالولی وکیل رییس شورای ولایتی لوگر به رادیو آزادی گفت: شب گذشته نیرو های خارجی بر یک محل مسکونی در ولسوالی ارزه حمله هوایی کردند که ۵ تن دیگر زخمی شدند.
در همین حال یک شاهد عینی در این ولسوالی می گوید که در میان کشته شده گان ۸ زن و طفل نیز شامل اند. به گفته این شاهد عینی، ۱۱ تن دیگر به شمول زنان و اطفال زخمی شده اند.
مقامات محل این گفته را تایید و یا رد نمی کنند اما می گویند که تحقیقات در مورد این حادثه شروع شده است.
اما نیروهای خارجی گفته اند، این عملیات از طریق هوا اجرا نشده و هم چنان به گفتهء این نیروها در آن به غیر نظامیان تلفات وارد نشده است. در یک تحول دیگر مربوط به تلفات افراد ملکی در افغانستان، هیاتی که به خاطر بررسی حادثه بمباری نیرو های خارجی در ولسوالی دوه مندهء ولایت خوست توظیف شده بود می گوید که تمام قربانیان این حادثه افراد ملکی هستند.
در خبرنامهء ریاست جمهوری افغانستان آمده است که قربانیان این رویداد همه اعضای یک خانواده بودند.

د پاکستان دفاع وزیر وایي د...

دا هم وویل چې د امریکا پیسې د جګړې لپاره نه وې بلکې دا هغه پیسې وې چې موږ مخکې لا هلته لګولي دي.
ده ایکسپریس ۲۴/۷ تلویزیون ته وویل چې پاکستان په غرنیو یا سرحدي سیمو کې تر ډېره وخته پورې خپل ځواکونه نه شي ساتلی نو د دوی بل اقدام به دا وي چې حکومت یا وسله وال ځواک خپل ټول سرتېري له سرحدي سیمو وباسي.
دا په داسې حال کې ده چې پرون د پاکستان پوځ پټکه کړې وه چې د امریکا د مرستو د بندېدا پروا نه کوي او د امریکا له مرستو پرته هم د تروریزم پرضد خپلې جګړې ته دوام ورکوي.
د پولو په اوږدو کې پر یو بل د ډزو په باب د کابل او اسلام اباد د ادعاوو او د دا ډول بریدونو د زیاتوالي په اړه د پاکستان دفاع وزیر خبرداری ورکړ چې که دې ډول بریدونو دوام وکړ په پوله کې به جګړه ونښلي.
افغانستان وایي چې په تېرو دوو میاشتو کې پاکستاني پوځیانو پر ننګرهار، خوست او کونړ ولایتونو تر اته سوه زیات توغندي ویشتي، په لسګونو ماشومان، ښځې او نور ملکیان یې وژلي او ګڼ نور یې ټپیان کړي دي.
د کونړ له ځینو سرحدي سیمو په سلګونو کورنی مجبوره شوي چې کورونه پرېږدي او امنو سیمو ته ولېږدي.
د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د حملو د درولو لپاره د پاکستان سفیر احضار کړی خو پاکستان ادعا کوي چې د افغانستان له خاورې پاکستاني طالبان پاکستان ته اوړي او د دوی پرسرحدي پوستو او کلیو حملې کوي.
پاکستان وایي باید ناټو او د افغانستان امنیتي ځواکونه د پاکستاني طالبانو مخه ونیسي.
دا هغه غوښتنه ده چې افغانستان یې له پاکستانه له تېرو لسو کلونو څخه بیا بیا کوي.

ولسي جرګه غواړي د لوی څارنوال او ستري محکمې د مشر پر ضد ولسمشر ته یو لیک واستوي

کابل، رسنۍ:
د افغانستان ولسي جرګې پریکړه وکړه چې دهیواد ولسمشر ته به یو لیک لیږي او په هغه کې به د لوی څارنوال او د ستري محکمې د مشراو پنځو غړیو د ګوښه کیدو جدي غوښتنه کوي.
ولسي جرګې داخل په جدي توګه له لوړ پوړو چارواکو وغوښتل، چې د افغانستان لوی څارنوال او د ستري محکمې مشر او پنځه غړي چې د دوی له خوا سلب صلاحیت شوي له دندو لرې کړي.
دغې جرګې د سې شنبې په ورځ په خپله عمومي غونډه کې په دې نظرونه ورکړل چې څنګه د دوی دغه پریکړه چې نوموړي کسان بې سلب صلاحیت کړي عملي شي.
د وکیلانو له خوا په دې اړه له بیلابیلو نظرونو او وړاندیزونو وروسته په دې پریکړه وشوه، چې ولسمشر حامد کرزي ته به یو لیک لیږي او په جدي توګه به ورڅخه غواړي، چې دغه کسان له دندو لرې کړي.
دغه پریکړه د ولسي جرګې د دویم منشي احمد بهزاد له خوا داسې ولوستل شوه.
"د نن ورځې مکتوب به د جمهوري ریاست ترعنوان لاندې د ولسي جرګې د اداري پلاوي له خوا د همدې موضوع په اړه ولیږل شي."
له ګومه وخته چې لوی څارنوال او د ستري محکمې مشر او پنځه غړي د ولسي جرګې له خوا بې صلاحیته اعلان شوي، څو ځله له مسولو چارواکو غوښتنه شوې چې له دندې نه دې د دوی د ګوښه کیدو په اړه اقدام وکړي.

د ولسي جرګې غړي وایي، د چارواکو او په ځانګړې توګه د ولسمشر پټه خوله پاته کیدل د دې لامل شول چې دوی په دې اړه جدي غبرګون وښیي.
یوشمیر وکیلانو وویل، چې د امنیتي مسولینو په ځانګړې توګه د کورنیو چارو له وزیره باید وغوښتل شي، چې له دندې څخه د دغو کسانو مخه ونیسي.
په ولسي جرګه کې د ننګرهار د خلکو استازي حاجي ظاهر قدیر هم په همدې نظر و، نوموړي وویل، که چیرې اړونده وزیران د دوی په غوښتنو غوږ و نه ګروي نو په هغه صورت کې به بیا دوی استیضاح اوسلب صلاحیت کړي.
"د اساسي قانون په چوکاټ کې دا زموږ مسلم حق دی، داخلي وزارت او مالیې وزارت د ۷۷ مادې پر اساس خبر ورکول کیږي، چې لوی څارنوال او قاضي القضات به نور دفتر ته پرېږدي او نه دوی له هغو لوازمو استفاده کوي، کوم چې حکومتي دي او دوی دې خپل اجراات وکړي، که اجراات ونه کړي، نو په راروانې اوونۍ کې صندوق دې ورته کېښودل شي او سلب اعتماد دې شي."
یوشمیر وکیلان په دې اندېښمن دي، چې حکومت د دوی پریکړو ته ارزښت نه ورکوي او کیدای شي دغه غوښتنه یې هم بې ځوابه پاته شي.
خو داچې لوړپوړي چارواکي او ولسمشر کرزی به په دې اړه اجرات وکړي او که نه دا هغه څه دي، چې د ولسمشر د ویاند مرستیال حامد علمي یې اوس په اړه څه ونه ویل.
ځیني کتوونکي په دې باور دي، چې د ځانګړې محکمې پریکړو په ولسي جرګې د چارواکو باور کم کړی او تردیره یې غوښتنو ته هم ځواب نه ورکول کیږي.

دغه رنګ مو تاسي غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۸۰۹۸۳۰۸

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مینه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com